پښتانه بني اسرائيل دي . د دې نظريې
په ردبه تاييد کښې خپل خيالات قلم ته
اوسپارې

## د پښتنو د اصل نسل په حقله نظريې :-

د پښتنو د اصل و نسل په حقله
ډيرې نظريې مشهورې دي. ملګه څوک وائي
چې پښتانه بني اسرائيل دي. څوک ئې
اريائن ګڼړي. ځينې خلق د نظريه هم لري
چې دوی د حضرت ابراهيمؑ نه د بي بي قنطوره
اولاد دی. په دې لحاظ پښتانه نسلاً بني قطوره
دي. د بني اسرائيل او آريان نظريې پکښې
ډيرې مشهورې دي. ډير محققين پکښې
د بني اسرائيل نظريې سره اتفاق لري. مونږ هم
په دې اتفاق کوو چې پښتانه بني اسرائيل دي.

## بني اسرائيل نظريه :

د پښتنو د اصل نسل په
باب کښې يوه مشهوره او پخوانۍ نظريه داده
چې پښتانه بني اسرائيل دي

**مخزن افغاني :-** دا نظريه په اول ځل
په مخزن افغاني نوم کتاب
کښې پيش شوې ده. چې د مغل باچا جهانګير په
زمانه کښې نعمت الله خان هروي ليکلې ده

**پښتانه ليکوالان :-** د دې نه پس چې د پښتنو
د خپلو ليکوالو له خوا هم څومره
تاريخونه ليکلې شوي دي. لکه په "تاريخ
**مرصع** د افضل خان خټک، خلاصه الانساب
د حافظ رحمت خان، تو زک افغاني" شوکت
افغاني، خود رشيد جهان داسي لو نکې هم
ليکوالو دغه نظريه د خه تنقيد نه منلې ده

کېږي ده - دغه دانه علاوه د شبلي صديقي
په څېړنه د بعه سيد عبد الجبار شاه ستانوي
هم يوه رساله "د بني اسرائيل باطلت افاغنه"
په نوم ليکلې ده، د بني اسرائيل نظرې
مردوده کړې شوې ده. په مستشرقين
کښې **سرډليم** او فيجر د فاوډلې هم دا
نظرې مردوده کړې ده. **دکتاب حواله**
(**پښتانه د تاريخ په رڼا کښې**
سيد بهادر شاه ظفر کاکاخيل)

## د بني اسرائيل نظرې وضاحت :-

د حضرت افغاني او د دې
قسم نورو لوړ لوګو ليکوالو په قول د پښتنو هغه
اعلى ساول اسرائيلي دي - دا سړی د حضرت
يعقوب په دولسو ځامنو کښې د بن يمين په
اولاد کښې دا څې - دا موږ ځينې وائي چې ساول
د حضرت شموئيل د پيغمبر په زمانه کښې
د بني اسرائيلو په درخواست د هغوی بادشاه
مقرر شو او بيا د حضرت شموئيل په هدايت
د عمالقه قام جنګ ته روان شو. د عمالقه
قام بادشاه جالوت لوی بده چه د خپل جسماني
زور او طاقت په وجه چا د هغې مقابله نه
شوه کولی - جالوت چې ميدان ته راووت
نو د هغه مقابلې ته بني اسرائيلو له څوک
نه وتل. اخر طالوت په خپل فوج کښې
دا اعلان اوکړو - چې کوم سړی د جالوت
سر پرې کړو او ماله زاو هې لور خپله لور به
ورته په نکاح کوم او د بادشاهۍ په
کاروبار کښې به ئې ځان سره شريکوم - په
دغه وخت داؤد د جالوت مقابلې ته روان
شو او د سرئې تر ينه پرې کړو. د وعدې
مطابق طالوت خپله لور داؤد ته واده کړه
او د بادشاهۍ په کاروبار کښې ئې شريک کړو

د طالوت د وفات نه پس د هغه د دوو ښځو یو یو زوئ او شو. د یو نامه ارمیا او د بل د برخیا نامه وه. برخیا بیا د داود ع وزیر اعظم او دوهمیه ئی سالار مقرر شو. د دی دواړو هم بیا یو یو زوی وو، آصف د برخیا زوی او افغانا د ارمیا زوی نوم وو. د داود ع د وفات نه پس حضرت سلیمان ع آصف او افغانا ځان سره وزیر اعظم او سپه سالار مقرر کړل. بیا د آصف اتلس (18) ځامن وو او د افغانا څلوېښت ۴۰. او د دوی اولاد دومره ډېر شو د حضرت سلیمان ع د وفات په وخت د دے دواړو قبیلو هومره په ټول بنی اسرائیل کښې نه وه.

## د بني اسرائيلو او بن افغان هجرت :-

د غه مؤرخین وائي چې د حضرت سلیمان ع د وفات نه پس بنی اسرائیلو د خدائے نافرمانی اختیار کړه. او د نګاه نګ ګناهونه او سرکشی ئے شروع کړې. نو د دے وجې الله پاک په دوئ باندې د بابل پاچا بخت نصر مسلط کړو. بخت نصر په یروشلم حمله او کړه او ډېر بنی اسرائیل ئې قتل کړو او ځنے قبیلے حجاز ته او تښتیدے. د دوی کومے قبیلے چې حجاز ته تښتیدلے وے. هغوی د مکے شریفے په څوا اوشا کښې اباد ے شوے او د یو خدائے عبادت ئې شروع کړے وو

## سردار قیس (عبدالرشید)

حضرت سلیمان ع د وفات نه پنځلس کاله پس د حضور اکرم ص ظهور او شو. او د حضور ص د هجرت نه اته کاله پس حضرت خالد رض ابن ولید چه لوئے صحابی د بنی اسرائیلو د قوم یو لوئے سردار او د خالدی افغانانو نیکه وو. د غور بنی اسرائیلو نه یو خط اولیګلو چې په هغے کښې ئے د حضور صلی الله علیه وسلم د نبوت او د

ظهور خبره دکړې وه - دده پیغام په جواب کښې
دکوډ بني اسرائیلو د خپل مشر سردار قیس په مشرکه
کښې مدینې ته یوه جرګه اولیږله - دې جرګې په
حضور اکرم ﷺ ایمان راوړو - حضورﷺ دې ته خیر دعا
اوکړه - او د قیس نوم ئې بدل کړو او عبدالرشید
ئې کېښود - قیس سره د خپلو ملګرو د مکې په غزوه
کښې هم شامل وو - او ډېر مېړانه ئې ښکاره کړې
ده حضورﷺ عبدالرشید ته د ملک او بطان خطاب ورنه
ورکړل - او وئې فرمائیل چه دے به ځما د دین
بطان وي - بطان لفظ د شام د خلقو په ژبه
کښې ښکلوني ته وئیلے شي - لو د دے مطلب دا
وو چه دے به د خپلو خلقو ښکاروني - د دغه
لفظ بطان بیا وروستو د هغوي خلقو له خوا
پټهان شو. حضرت خالد خپله لور ساره بي بي هم
عبدالرشید ته په نکاح ورکړه - له هغې څه
قیس سره د خپلو ملګرو خپلې علاقې ته واپس راغے
د ده درې ځامن وو - سړبن، غورغښت او
بیټن - دا درے واړه سړي د موجود پښتنو اکثر
د قبائیلو مورثان اعلیٰ دي - د دې بحث نه ثابته
شوه چې پښتانه بني اسرائیل دي